واحد فقیري ۲۰۱۶/۱۰/۱۳

# د امریکا انتخابات او افغانستان

که څه هم د متحده ایالاتو د جمهوري ریاست د مقام له پاره د انتخاباتي کمپین آخري میاشت او ورځې را رسېدلي دي، خو تر اوسه پورې دواړوو مخکښو کاندیدانو د افغانستان په باب چندان څه ندي ویلي، او پدې باره کې ئې کوم مستقل او منسجم نظر ندی بیان کړی. بلکي کله چې تاسو د مېرمن کلنټن او یا هم د ښاغلي ټرمپ ویب سایټونو ته ورسئ، دواړه کاندیدان د افغانستان جنګ د امریکا د ملي امنیت او د بین المللي تروریزم د عمومي مجادلې یوه برخه ګڼي، او د همدې مبارزې په لړ کې د افغانستان نوم دلته او هلته ذکر وي.
البته له ډېر وخت راهیسې په امریکا کې عمومي تفاهم دا دی چې د افغانستان نوم باید چندان وا نه خیستل سي. په واشنګټن کې، د جمهوررییس اوباما د حکومت عالي رتبه مامورین ټل هڅه کوي چې د افغانستان جنګ د خلګو له سترګو څخه نیام وساتي. هغوی په امریکایي مطبوعاتو کې مدام کوښښ کوي چې د افغانستان ماموریت یو کامیاب، قریب ختم، او تر کنټرول لاندې وښیي. داسې ښکاري چې د اوباما د حکومت او پنټګان هڅه دا ده چې په افغانستان کې د امریکایي تلفاتو شمېر حد اقل ته راکښته کړي، ځکه د امریکایي عسکرو مرګ ژوبله د عامه امریکایانو توجه د افغانستان ۱۵ کلن ناتمام او ناکام ماموریت ته واړوي.
دغه راز، دمګړی د امریکا په کانګرس کې هم د افغانستان پر مصارفو باندې د وکیلانو او سناتورانو په مینځ کې کوم څرګند اختلاف نسته، او په کانګرس کې مطلق اکثریت استازي د همدې ماموریت د مصارفو لپاره رایه ورکوي. لنډه دا چې د افغانستان جنګ به د متحده ایالاتو درېیم جمهوررییسي یا جمهوررییس ته په میراث پاته وي. پدې ترتیب به د امریکا تر ټولو اوږد جنګ څو کاله نورهم وغځېږي، او د بروکسل د کانفرانس له اټکل سره سم به اقلا تر ۲۰۲۰ پورې دوام ولري.

## مېرمن کلنټن او افغانستان:

که چیري مېرمن کلنټن د امریکا جمهوررییسه سي، هغه به په اغلب ګومان د افغانستان په برخه کې د اوباما اوسنۍ پالیسي ته دوام ورکړي. ځکه مېرمن کلنټن څلور کاله د ښاغلي اوباما خارجه وزیره وه، او پدې تېرو ۱۵ کالو کې د افغانستان په ارتباط په ټولو مهمو تصمیمونو کې دخیله او مقتدره سیاستواله وه. مانا دا چې د مېرمن کلنټن د حکومت په لومړی او یا دوهم کال کې به د افغانستان په مورد کې چندان مهم بدلون را نه سي، او همدا اوسنۍ ستراتیژي به په لږ و ډېر تفاوت سره ادامه ولري. او د داعش او طالبانو سره به همدا اوسنی جنګ جاري وي.
مېرمن کلنټن پخپل ویب سایټ کې وعده کوي چې په افغانستان او نورو سیمو کې به د داعش او نورو مذهبي افراطیانو په مقابل کې کلکه ودرېږي، او په نظامي ډګر کې به هغوی مات او ورک کړي.
خو د مېرمن کلنټن کاري سابقه دا ښیي چې هغه په بین المللي مسایلو کې په سافټ پاور باندې باور لري، او دېته ترجیح ورکوي چې بین المللي لانجې د خبرو او مذاکراتو له طریقه حل کاندي، نه یوازې له نظامي لارې. د سافټ پاور او سمارټ دیپلوماسي هدف دا دی چې د نړیوالو لانجو د حلولو په منظور خلګ او ملکونه همکاری او تفاهم ته تشویق او ترغیب سي. د هیوادونو تر مینځ تجارت، د مدني ټولنو تر مینځ تماسونه، او د جهانیانو تر مینځ علمي او کلتوري روابط پراخ او ډېرسي. په مجموع کې، د سافټ پاور هدف دا دی چې بین المللي کشالې د مذاکراتو، دیپلوماتیکو فشارونو، او عدم تشدد له لارې فیصله سي.
پر سافټ پاور باندې د مېرمن کلنټن باور ښایي د افغانستان په درد وخوري، او د مېرمن کلنټن په راتګ سره ښایي د طالبانو سره د خبرو جریان بېرته له سره را شروع سي.
په شخصي لحاظ، مېرمن کلنټن د افغانستان سره اوږده سابقه او تجربه لري. ډېر زیات افغانان پېژني، او څو ځله ئې افغانستان ته سفرونه کړي دي. د کلنټن په دوران کې به د ښځو د حقوقو او تعلیم مسلې ته زیاته توجه وسي، او ښایي د افغانستان سره پدې برخه کې ډېره مرسته وسي.
په نتیجه کې، د مېرمن کلنټن څخه زما او زما په څېر د نورو افغانانو هیله دا ده چې په افغانستان کې د امریکا پر ۱۵ کلن نظامي اشغال باندې هر اړخیز مرور او تجدید نظر وکړي، او جدي اصلاحات په کښې راولي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په لومړي سر کې، متحده ایالات باید په افغانستان کې د څو مشخصو مافیایي کورنیو، فاسدو زورواکانو، او د مخدره موادو د قاچاقبرانو حمایت خوشي کړي. په ټول افغانستان کې د امریکا په ملاتړ د انحصار طلبو مسلح ډلو راج ختم کړي. او په افغانستان کې د امریکا دا د شرمه ډک فصل د ابد لپاره وتړي.
دوهم، په افغانستان کې د روان جنګ د ختمولو په منظور صادقانه او موثر اقدامات وکړي. مانا په خوله او خبرو دیموکرات مګر په عمل کې د جنګسالارانو سره د یاراني ریاکارانه پالیسي خوشي کړي. او تر ټولو مهمه دا چې له افغانستانه د امریکایي عسکرو د وتلو لپاره څه باعزته چاره ولټوي.
دریم، افغانان باور لري چې متحده ایالات اخلاقي مسولیت لري چې اجازه ور نه کړي چې افغانستان یو ځل بیا د داخلي جنګ یو بل شریر سایکل ته ننوځي. ځکه په افغانستان کې جنګ ټوله سیمه او حتی جهان بې ثباته وي.
او بالاخره، تمه کېږي چې د مېرمن کلنټن حکومت د پاکستان سره د امریکا موجوده د مدارا او کرنش سیاست پرې ږدي. د پاکستان له پوځ او استخباراتو سره خپل سخاوتمندانه کومکونه بند کړي. د پاکستان او افراطي ډلو تر مینځ د روابطو په باب خپل استخبارات عام او نشر کړي، او متحده ایالات دا خبره په ډاګه وکړي چې پاکستان د مذهبي شرارت مرکز دی، او باید مجازات سي.

## ټرمپ او افغانستان:

له اوله سره باید دا و وایم چې په بین المللي مسایلو کې د ښاغلي ټرمپ د طرز تفکر اټکل ګران کار دی، ځکه ټرمپ چندان په سُر برابر نه دی. او یقینا د جمهوري ریاست د مقام لپاره وړ او مناسب کس هم نه دی. د دې مقام لپاره لازم دروندوالی او سیاسي پوخوالی نه لري، او په مزاج کې ذاتا نارامه سړی دی. که چیري ټرمپ انتخابات وګټي، په اغلب ګومان به جنګونه ډېر سي، او په نورو ملکونو کې به د امریکا مداخلې هم زیاتي سي. څرنګه چې ټرمپ په مذهب او نژاد کې متعصب کس دی، د هغه د راتګ سره به په جهان کې د تمدنونو د تصادم مفکوره زور واخلي. د کانسپرېسي د تیوري پلویان به ښه په غوره کې سي، او په افغانستان کې به د امریکا ۱۵ کلن اشغال لا مرګانی او خطرناکه سي.

والسلام


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ